# وظیفه پیداکول



Espen Stranger-Johannessen
Sunniva Høiby-Øiset
Shir Ahmad Laiwal
4
پښتو ps




اليشا د يوې وظيفې پيدا کولو ته ضرورت لري ځکه د دې کورنۍ د غذا او کالو لپاره پيسو ته ضرورت لري.



الیشا په خپل هیواد کې کار نه کوي، لیکن دا په اشپزي کي ښه ده
او د خلکو سره خبرې کول خوښیږي.



شايد دا په ريستورانټ کي کار کولايی شي؟ اليشا په انټرنيټ کې
په اعلان شويو وظيفو پسې ګرځي.




دا د اشپز اړوند یو اعلان پیداکوي. دا هغه ځوک دي چې په
ریسټورانټ کې اشپزي کوي.



ده د وظیفې د انټرویو لپاره ځي. د ریستورانټ منیجر دې ته دا وایی چی دوي داغسي یو څوک غواړي چی د اشپزانو د مشري اپاره روزل شوي وي.



الیشا مایوسه ده، لیکن دا د “غذا او کروبتوب” اړوند یو کورس تعقیبوي. دا هیله لري چی دا به د دې سره مرسته وکړي چی په ریستورانټ کي وظیفه پیداکړي.



د دې د روزني د کورس د یوي برخې په صفت، دا په ریسټورانټ کې کار هم کوي. دې ته معاش نه ورکوي، لیکن دا کاري تجربه تر لاسه کوي.



دا د دې کورس جزیات خپلې سي وي ته اضافه کوي. سي وي د
دې د کارونو او تعقیب شویو کورسونو ټولګې ته ویل کیږي.



بل وخت چې الیشا ریستورانټ ته د وظیفې د انټرویو لپاره ځي، دي ته وظیفه ورکول کیږي. وظیفه یې سخته ده. دا زیات وخت باید په ماښامي وختونو کي کار وکړي، کله چې د دي کوچنیان د مکتب څخه کور ته راځي.



دا په دې فخر کوي چې دې وظيفه پيداکړله تر څو دا کولایی شي په خپلو پيسو د خپلي کورني لپاره غذا او کالي رانيسي.

# LIDA Stories

lidastories.net

## وظیفه پیداکول


Espen Stranger-Johannessen
Sunniva Høiby-Øiset
Shir Ahmad Laiwal


CC BY